مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اځر

۲۰۲۶/۰۷/۰۹

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(درویشتمه برخه)



(بې‌نظیر بوټو)

**پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانې(۱۹)**

**بې‌نظیر بوټو چا ووژله؟ جنرال پرویز مشرف او نور (۱)**

بې‌نظیر بوټو پوهیده چې په پاکستان کې ډېر دښمنان لري، څکه چې جنرال مشرف او پلویان یې پوهیدل چې نوموړې به د ۲۰۰۸ز. کال ټاکنې وګټي او دوی به له واکه ګوښه کړي.

بې‌نظیر بوټو په یو لیک کې چې د ۲۰۰۷ز. کال د اکتوبر په ۱۶مه نېټه یې ولسمشر مشرف ته استولی ؤ، په لیک کې د دغو څلورو کسانو نومونه یې یاد کړي وو: **د استخباراتو ادارې (IB) مشر اعجاز شاه، د پنجاب پخوانی اعلی وزیر چودري پروېز الهي، د سند پخوانی اعلی وزیر ارباب غلام رحیم او د (ISI) پخوانی مشر حمید ګل.** بې‌نظیر بوټو لیکلي وو چې دا کسان د هغې د وژنې په احتمالي پلان کې ښکېل دي.[1]
بې‌نظیر بوټو د پنجاب د چودریانو په اړه (چې د مشرف نږدې کسان وو) د امریکا د بهرنیو چارو او نړیوالو اړیکو یو وتلی خبریال، شنونکی او لیکوال، **اریک مارګولیس** (چې د بوټو له کورنۍ سره یې نږدې اړیکې لرلې) هم یادونه کړې وه، هغه وایي چې بې‌نظیر بوټو د ټلیفون پر لیکه راته وویل:**«که زه ووژل شم نو قاتلان به مې د پنجاب چودهري ورونه وي.» چودری شجاعت حسېن او چودری پرویز الهی چې د مشرف تر ټولو مهم ملاتړې او خورا سیاسی پانګوالان دي.**[2]
بې‌نظیر بوټو په خپل لیک کې جنرال مشرف پوه کړی ؤ چې نوموړي کسان د ده نږدې انډېوالان دي، مانا دا چې په خپله جنرال مشرف دی چې د هغې د وژلو هوډ لري.

---

[1]: https://www.dawn.com/news/282349/ppp-demands-probe-based-on-benazir
[2]:https://www.tolafghan.com/articles/16002


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له دې سره، د ۲۰۰۷ز. کال د اکتوبر هغه بريښناليکونه هم خپاره شول چې بې‌نظير بوټو په کې ليکلي وو: **که هغه ووژل شي نو مسؤليت يې پر مشرف واچوي، ځکه د مشرف حکومت هغې ته لازم امنيت نه دی برابر کړی.**[3]
په پاکستان کې د ننه، ډېری خلک په دې باور وو چې جنرال مشرف چې د پاکستان واکمن او پوځي مشر ؤ، سل‌په‌سلو کې د بې‌نظير بوټو په وژلو کې لاس لري.[4] ځکه چې د بې‌نظيرې ساتل او نه ساتل **(ژوند او مرګ[5])** د ده د حکومت په لاس کې وو.

د بې‌نظير بوټو له وژل کيدو وروسته، په پاکستان کې حالات ډېر ترينګلي شول، ځينو مخالفو سياسي ډلو وويل چې د بې‌نظير بوټو ترور ښايي کورنۍ جګړه رامنځ ته کړي او نورو شنونکو اټکل کاوه چې راتلونکې ټاکنې به وځنډول شي.

د بې‌نظير بوټو پلويان ډېر په قهر وو، **دوی د ډېرې خوابدۍ له امله نارې وهلې او په ژړا وو،** هغوی د روغتون د ښيښو دروازې ماتې کړې، پر موټرو يې ډبرې وورولې او د روغتون مخې ته يې د جنرال مشرف پر خلاف داسې شعارونه ورکول: **«سپيه، مشرفه، ای سپيه...!»**[6]

ځينو نورو پر پوليسو بريدونه وکړل او د انتخاباتي کمپاين پوسټرونه او موټر ټايرونه يې وسوځول. د ډسمبر په ۲۸مه نېټه، بلواوې لا پسې پراخې شوې، په ځانګړې توګه په سند ايالت کې (چې د بې‌نظير بوټو اصلي سياسي ټاټوبی ؤ.)
«پوليس د تيارسۍ په حالت کې وو او په کراچۍ کې په رامنځ ته شويو اړ دوړ کې **دوه پوليس افسران په ډزو ووژل شول.»**

جنرال مشرف [چې قهرجن پاڅونوال يې ياغيان او لوټماران بلل] امنيتي ځواکونو ته امر وکړ چې د بلواګرو او لوټمارانو پر ضد جدي عمليات وکړي، څو امنيت او نظم ټينګ شي.[7] پاکستان رېنجرز ځواکونو اعلان وکړ چې هر هغه څوک چې تاؤتريخوالی يا اورلګونه رامنځ ته کوي، د ليدلو سره سم به پرې ډزې کېږي. که څه هم د امنيتي ځواکونو هڅه دا وه چې تر خپل وس پورې له مخامخ نښتې ډډه وکړي. خو «**قهرجنو لاريونوالو ۱۷۶ بانکونه، ۳۴ د تېلو پمپونه او سلګونه موټرونه او دوکانونه ويجاړ کړل.»**[8]

**(ډېلي جنګ)** ورځپاڼې راپور ورکړ چې، **د اورګاډي ۲۸ ، تمځايونه، ۱۳ د اورګاډو ماشينونه (لوکوموټيف) او ۷ اورګاډي وسوځول شول ...** د ډسمبر له ۲۷مې شپې راهيسې د پاکستان د اورګاډي ټول نظام په بشپړ توګه فلج شوی ؤ، زرګونه مسافر په تمځايونو کې د اورګاډو د بېرته فعاليدو په تمه وو خو څو ورځې د خدمتونو د بيا پيل هيڅ نښه نه ليدل کېده.
د پاکستان د اورګاډو اداري اعلان وکړ چې د بې‌نظير بوټو له ترور وروسته **د رامنځ‌ته شويو اخوډب له امله يې ۱۲.۳ ميلیارده پاکستانۍ کلداري مالي زيان ليدلی دی.**
له ترور وروسته يوازې په لومړيو څلورو ورځو کې د کراچۍ ښار اقتصادي زيان نږدې **يو ميليارد امريکايي ډالرو ته ورسېد.**[9]

د مسلم ليک قايد اعظم ګوند چې د پروېز مشرف متحد ؤ او له بې‌نظير بوټو سره يې په ټاکنو کې سيالي کوله، د نوموړي ګوند د ډېرو مشرانو پر کورونو ډزې وشوې او د هغوی د ټاکنو دفترونه يې هم وسوځول. په دغو پراخو پاڅونونو کې د پوليسو په ډزو او د بېلابېلو ډلو ترمنځ په نښتو کې، **له ۱۰۰ څخه ډېر کسان ووژل شول.**

---

[3]: http://www.cnn.com/2007/WORLD/asiapcf/12/27/bhutto.security
[4]: https://www.forbes.com/2007/12/27/pakistan-bhutto-update-markets-emerge-cx_rd_1227markets26.html
[5]: مرګ او ژوند د لوی څښتن په لاس کې دی خو الله تعالی ظالم نه دی او په ظلم سره څوک نه وژني، دا انسانان دي چې يو بل سره وژني، الله تعالی د يو بې‌ګناه انسان وژل داسې بولي لکه د ټولې نړۍ انسانان يې چې وژلي وي ... د قرآن کريم د مايدې سورت ۳۲ ايت وګورئ.
[6]:https://news.bbc.co.uk/2/hi/south_asia/7161590.stm
[7]:https://news.bbc.co.uk/2/hi/south_asia/7164138.stm
[8]: http://english.aljazeera.net/NR/exeres/3B2626BC-33E6-4004-A27E-70BAC1770563.htm
[9]: http://www.iht.com/articles/2008/01/02/business/pakecon.php?page=1


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د بېنظير بوټو خاورو ته له وسپارلو وروسته، بيا هم تر څو ورځو پورې خونړۍ نښتې او اخوډب دوام وکړ خو کله چې د پيپيپي ګوند مشرانو له خلکو د آرمۍ غوښتنه وکړه، وضعيت ورو، ورو آرام شو او د ۲۰۰۸ز. کال د فبرورۍ په ۱۸مه نېټه پارلماني ټاکني وشوې، د همدې کال د مارچ په ۲۴مه نېټه د پيپيپي ګوند مخکښ غړی **(يوسف رضا ګيلاني)** د پاکستان لومړی وزير وټاکل شو. د اګست په ۱۸مه نېټه، جنرال مشرف د ولسمشرۍ له څوکۍ استعفا وکړه او د ۲۰۰۸ز. کال د سپټمبر په ۶مه نېټه، د بېنظير بوټو مېړه آصف زرداري ولسمشر وټاکل شو.

جنرال مشرف په ۲۰۰۸ز. کال کې د بېنظيرې په وژلو کې په لاس لرلو تورن شو نو له **سيبيايس ټلويزيون** سره يې په يوه مرکه کې وويل: **بېنظير بوټو د خپل مرګ مسؤليت په خپله غاړه لري، ځکه چې هغې احتياط نه کاوه.**[10]

مشرف چې يو ناپوه او نااهله جنرال ؤ، د دې لپاره چې نومړی، له خپل کړي جنايت څخه د خلکو او نړيوالو مخ بلې خوا واړوي، د بېنظيرې او د هغې د ورور مرتضی بوټو د ژولو يو احمقانه او خندوونکی تور، د بېنظير پر مېړه **(آصف زرداري)** باندې پورې کړ، مشرف په ۲۰۱۷ز. کال کې په يوه خپرې شوي ويډيو کې وويل:**«زما پوهاوی دا دی چې د بوټو د کورنۍ بربادي: د بېنظير بوټو او مرتضی بوټو د وژنې مسؤليت د يو کس په غاړه دی، آصف زرداري دواړه ووژل!.»** [11]
په ويډيو کې مشرف يو بل هوايي ډز هم وکړ چې د هغه  پر حماقت باندې د ده خپل درواغ شهادت وايي، مشرف نه يوازې د بېنظير بوټو پر وژلو د هغې مېړه تورن کړ **بلکې ولسمشر حامد کرزی او د افغانستان لوړپوړي چارواکي يې، (له دې امله چې حامد کرزی له بيت الله مسيد سره اړيکي لري) د بېنظيرې پر وژلو تورن کړل.**[12] خو مشرف په دا ډول (اوتو بوتو) خپل جنايت پټ نه کړای شو، تر دې چې په پای کې د محکمې لهخوا د بېنظير بوټو د وژولو په تور، په غيابي اعدام محکوم شو. (چې په راتلونکو پاڼو کې به پرې وغږېږو.)

لکه چې وايي: **ځمکه هغه سوځي هر چې اور وربانديې بل وي،** طبعي ده چې د هر وژل شوي کورنۍ تر ټولو ډېره زوريږي، کورنۍ يې هلېځلې کوي خپل دښمن وپېژني له دې امله ده چې د نورو په پرتله، هر څوک خپل دښمن ښه پېژني، له موږ ټولو څخه د بېنظير بوټو کورنۍ ته خپل دښمنان ښه مالوم دي، د بېنظير بوټو زوی **(بلاول زرداري)** او د بېنظيرې لونه، **(بختوره او آصفه)** وايي چې د دوی د مور د وژنې اصلي مسؤل پخوانی پوځي ولسمشر پروېز مشرف دی.

د پاکستان د پخوانۍ لومړۍ وزيرې د لسم تلين په درشل کې، بلاول زرداري له **بيبيسي** سره په يوه ځانګړې مرکه کې د خپلې مور د وژنې په دوسيه کې د ښکېلو کسانو په هکله ژورې څرګندونې وکړې، بلاول وويل چې هغه زلمی **[بلال]،** د خپلې مور وژونکی نه بولي چې د ۲۰۰۷ز، کال د ډيسمبر پر ۲۷م ماښام يې په راولپنډۍ کې پر بېنظير بوټو بريد وکړ او ويې وژله. «مشرف له حالاتو په ګټه اخيستلو سره زما مور ووژله، هغه ترهګر به ډزې کړې وي **خو مشرف په لوی لاس زما د مور امنيت نه ؤ نيولی چې په دې توګه يې له سياسي ډګره وباسي.»**
جنرال مشرف غوښتل بېنظير بوټو ته وښيي چې که له هغه سره مخالفت څخه لاس وانخلي او په راتلونکي کې د هغه په ګټه نه وي نو امنيت به يې ونه نسيي. په دې اړه بلاول وويل چې **مشرف زما مور ته مخامخ ګواښ کړی ؤ، ورته ويلي يې وو چې د هغې امنيت له ده سره د اړيکو پر څرنګوالي پورې اړه لري.** هغه ادعا وکړه چې د هغې د ترور په ورځ، د دغه پخواني پوځي واکمن لهخوا، له هغې څخه د امنيتي کړۍ (ساتونکي) لرې کړای شوي وو.[13]

لکه څرنګه چې جنرال مشرف، د بلاول پلار، اصف علي زرداري د بېنظير بوټو په وژنه تورنوي او ځينې خلک هم په دې باور دي، بلاول زرداري وايي: په دا ډول خبرو سره غواړي مظلوم له ظالم سره يو شان کړي. «زما د مور د وژنې په مسئله کې رښتيا پټول کېږي چې د رسنيو له لارې يو ځانګړی اغېز رامنځ ته کوي چې دا کار د مشرف د ژغورلو لپاره کېږي.»

کله چې بلاول وپوښتل شو: له مشرف سره د بېنظير بوټو په وژلو کې چا مرسته وکړه؟
هغه وويل: سم نه پوهېږي چې په دې وژنه کې هغه ته چا لاس ورکړ. **«خو زه مشرف په شخصي ډول د دې وژنې مسؤل بولم،** له ما سره دا مالومات نه شته چې هغه د دې کار لپاره په ټلېفون لارښوونه کړې وه، يا يې په کومه پټه

---

[10]: https://www.cbsnews.com/news/musharraf-bhutto-knew-of-risks/ ؛ آزادی راډيو: ۱۳۸۶/۱۰/۶ل. ل
[11]: https://www.bbc.com/pashto/41351742
[12]: https://www.dawn.com/news/1359250
[13]:https://www.hindustantimes.com/world-news/pervez-musharraf-exploited-situation-to-assassinate-my-mother-bilawal-bhutto/story-AMbIbksqrCSzBZWvD7nHZN.html


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

ناسته کې د (پټ کوډ) له لارې پیغام لیږلی ؤ چې زمان د مور د وژلو تیاری یې کړی ؤ، زه پر خلکو یا ادارو هم تور نه شم لګولی.»[14]

د بېنظیر بوټو د وژنې په تور د ترهګرۍ ضد محکمې (ATC) د ټيټيپي پنځه تنه تورن غړي: رفاقت حسین، حسنین ګل، شیر زمان، اعتزاز شاه او عبدالرشید یې د شواهدو د نه شتون له امله له بنده خوشې کړل.[15]چې د دغو تورنو کسانو د برې کولو له امله پر محکمه هم ډېرې نیوکې وشوې، بلاول هم ورته نظر درلود، هغه وایي چې «محکمې د دې وژنې په تړاو د ملګرو ملتونو پلټنې له پامه وغورځولې، محکمې د حکومت پلټنې هم له پامه وغورځولې، دوی ټلیفوني غږونه له پامه وغورځول، له (ډي اېن اې) ترلاسه شوې شهادتونه یې هم له پامه وغورځول **ځکه زه وایم چې د محکمې دې پرېکړې پر عدل او انصاف باندې ملنډې وهلې دي.»**[16]

## القاعده او ټيټيپي

د ۲۰۰۷ز. کال، د ډسمبر په ۲۰مه نېټه، د پوځ عملیاتي ریاست، د کورنیو چارو سکرتر، سعید کامل شاه ته خبر ورکړ چې **(اسامه بن لادن)** جنرال پروېز مشرف، مېرمن بېنظیر بوټو او مولانا فضل الرحمن د وژلو امر کړی دی.
بلې خوا د (Adnkronos) خبري اژانس ادعا وکړه چې د القاعدې دویم مشر **(ایمن الظواهري)** د ۲۰۰۷ز. کال د اکتوبر په میاشت کې **د بېنظیر بوټو د وژنې امر کړی ؤ.**[17]

د پروېز مشرف د حکومت پر مهال، د پاکستان د کورنیو چارو وزارت اعلان وکړ چې **داسې شواهد لري چې د القاعدې سازمان د دې ترور تر شا ؤ.** وزارت وویل چې«ځانمرګی بریدکوونکی د لشکر جنګوي غړی ؤ. دا د سني وسلهوالو هغه ډله ده چې له القاعدې سره تړاؤ لري او پاکستانی حکومت یې د سلګونو وژنو مسؤله بولي.»[18]

د پاکستان د کورنیو چارو وزارت دا هم وویل چې **بېنظیر بوټو د ټيټيپي د مشر (بیت لله مسید) له خوا وژل شوې ده،** هغوی وایي چې موږ د دوی داسې خبرې ثبت کړي چې له القاعدې سره اړیکې لري او یو بل ته یې د هغې د وژلو مبارکی وایي.[19]

د ۲۰۰۸ز. کال د جنورۍ په ۱۸مه نېټه د امریکا د CIA مشر **(مایکل هایډن) وویل چې بیت الله مسید او د هغه شبکه د دې ترور مسؤل دي.**[20]

د بېنظیر بوټو د وژلو په تور پاکستانیو پولیسو څو کسان ونیول، **«د پولیسو په خبره، نیول شویو تورنو کسانو ویلي چې د پخوانۍ لومړۍ وزیرې بېنظیر بوټو د وژنې پلان د پاکستاني طالبانو پخواني مشر بیت الله مسید لهخوا جوړ شوی ؤ.»**[21]

د دغو تورونو په غبرګون کې، لکه څرنګه چې ټيټيپي پر بېنظیر بوټو د کراچۍ په برید کې خپل لاس لرل رد کړي وو، «د راولپنډۍ په برید کې هم بیت الله مسید د بېنظیرې په وژلو کې لاس لرل ونه منل.»[22] مولوي عمر چې ځان د ټيټيپي ویاند بولي، د ۲۰۰۷ز. کال د ډسمبر په ۲۹مه نېټه **اسوشیټېډ پرېس** ته وویل چې بیت الله مسید د بېنظیر بوټو

---

[14]: https://www.bbc.com/pashto/world-42490079
[15]:https://www.hindustantimes.com/world-news/pervez-musharraf-exploited-situation-to-assassinate-my-mother-bilawal-bhutto/story-AMbIbksqrCSzBZWvD7nHZN.html
[16]:https://www.bbc.com/pashto/41351742
[17]: http://www.adnkronos.com/AKI/English/Security/?id=1.0.1710322437
[18]: http://www.cnn.com/2007/WORLD/asiapcf/12/28/pakistan.friday/index.html
[19]: https://web.archive.org/web/20110512174530/http:/www.timesonline.co.uk/tol/news/world/asia/article3105443.ece؛ آزادی راډیو ۸/۱۰/۱۳۸۶ل. ل
[20]: https://news.bbc.co.uk/2/hi/south_asia/7195591.stm
[21]: بيبيسي: ۳۰ وږی ۱۳۹۶ - ۲۱ سپتمبر ۲۰۱۷
[22]: بيبيسي؛ آزادی راډیو او نور


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په وژلو کې لاس نه لري، د پاکستان حکومت په هغه باندې بې‌ځایه تورونه لګوي، مولوي عمر زیاتوي چې بې‌نظیره د پاکستان استخباراتو آی‌اېس‌آی له‌خوا وژل شوې ده.[23]
مولوي عمر وایي چې زه دا خبره په کلکه ردوم، **زموږ قبايلي خلک خپل دودونه لري، موږ پر ښځو برید نه کوو،** دا د حکومت، پوځ او استخباراتي ادارو یوه جوړه شوې توطئه ده.»[24]

د بې‌نظیرې، پیپلز پارټۍ د حکومت دا ادعا رد کړه چې ګواکې بیت الله مسید یا القاعده د بې‌نظیر بوټو د ترور مسؤل دي. د ګوند ویاند فرحت الله بابر وویل: دا چې وایي القاعده یا بیت الله مسید دا کار کړی، زموږ په نظر یوه جوړه شوې او ناسمه افسانه ده، ځکه دوی غواړي په دې توګه د خلکو پام له اصلي پېښې بلې خوا واړوي.»[25]

امریکایی لیکوال، **اریک مارګولیس** هم لیکي چې د پاکستانیو چارواکو **«دغه انګیرنه او عقیده هیڅ اعتبار نه لري چې وايي: بې‌نظیر بوټو د وزیرستان قبایلی جنګیالیو له‌خوا وژل شوې ده.»**[26]

نېټه: ۱۴۰۵/۴/۱۶ل. ل

**نور بیا**

[د ښاغلی محمد انور اڅړ نوری لیکنی په دی لینک کی ولولی.]

---

[23]: https://web.archive.org/web/20071231214132/http:/ca.news.yahoo.com/s/capress/071229/world/pakistan_bhutto_34؛ آزادی راډیو: ۱۳۸۶/۱۰/۶ل. ل.
[24]: https://web.archive.org/web/20071230230332/http:/timesnow.tv/NewsDtls.aspx?NewsID=5173
[25]: https://web.archive.org/web/20071231214132/http:/ca.news.yahoo.com/s/capress/071229/world/pakistan_bhutto_34
[26]: https://www.tolafghan.com/articles/16002


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ